# وحدت الوجود او رومانیت
# (د پښتو شاعرۍ په رڼا کښې)

# Pantheism and Romanticism in Pashto Poetry

Naila [1], Sajjad Elahi [2]

"Pantheism" is a doctrine that equates God with the force and laws of the universe and "Romanticism" is the term used for the acceptance of, or to believe in metaphysical things and occurring(s). In this research article, an attempt has been made to reconcile the connection between Pantheism and Romanticism. Pantheism in its nature offer a behavior of toleration for all creeds and religions; and in the same context, Romanticism rejects all the notions and concepts that lead the religion to overcome the humanity, evolution and logic.

دا یو جبلي عمل دے چې انسان به په یو نا یو صورت کښې خامخا د خداے د وجود ځان تابع ساتلے دے ـ که د موږه د زړګونو مذهبونو تاریخ وپلټو نو دا خبره په ډاګه ده چې د مذهب تصور یا خو د زړهٔ د تسلۍ دپاره په وجود کښې راغلے یا د حقیقت د معلوم شوې نتیجې له وجې ـ ولې په دواړو صورتونو کښې د انسان معراج د وحدانیت تصور دے ـ خو دغه تصور ځیني وخت داسې هم شي چې د یو چا په لاس کښې راشي او هغه د وحدانیت دغه تصور د یو حقیقي په ځاے فرضي په انسانو مسلط کړي ـ دغه حقیقي مذهب چې کله هم فرضي مذهب ته واوړي نو په نتیجه کښې ئې هم هغه خبره مخې ته راشي چې

" قالو اتجعل فیها من یفسدو فیها ویسفک الدماء"۱

(تاسو به هغه څوک خلیفه کوئ چې فساد به کوي او وینې به تویوي)

ولې د دې هر څهٔ نه پرته هم خداے پاک مطمئن دے او په جواب کښې وائي چې زهٔ هغه رازونه لرم کوم چې بغیر له مانه چاته نه دي څرګند ـ دا ځکه چې ما مخکښې هم ووئیل چې انسان په

1 M. Phill Scholar Department of Pashto UOP
2 M.Phill Lead to Ph.D Scholar

یو نۀ یو حالت کښې د خالق کائنات په تصور ډاډ پاتې کېږي ـ هم دغه تصور چې کله خاص کسانو ته ورسي او هغوي پرې خپل ظاهر او باطن دواړه منور کړي دغه خلق د خدائے له لوري هغه استازي وبللے شي څوک چې اول د نبیانو په شکل کښې وو او اوس د اولیاو په شکل ـ دغه خاص خلک چې د خدائے د ذات کوم معرفت خپل کړي نو دوي دغه ذات عام اولس ته د ورپېژندلو تلقین کوي ـ ځینې خلق چې دغه معرفت خپله وظیفه کړي نو هغه په دې نتیجه رسي چې دا هر څۀ د هغۀ نه دي ـ

د هغۀ نه دي نه مراد (همه اوست) جمله ده چې په خپل ځان کښې د وحدت الوجود یوه لویه صوفیانه نظریه په ځان کښې رانغاړي کومه چې فلسفه هم ده او مذهبي نظریه هم چې بلها صوفیانو مذهبي سکالرانو فلسفیانو پرې خپل خپل نقطه نظر مخې ته راوړے دے ـ په دې حقله بشیر احمد ډار وائي !

"تصوف کی مکمل او جامع تعریف ممکن نہیں ہر صوفی کے نزدیک تصوف کا مفهوم وه ھے جس پر اُس نے اپنی ذاتی کوشش سے عمل پیرا ہونے کی کوشش کی ھے ـ"۲

د تصوف پېژندګلو تر ننه ممکن نۀ شوه ځکه چې د هر صوفي په نظر کښې تصوف هغه دے کومه چې د هغۀ د سلوک او ریاضت لاره ده ـ

خو دا خبره څرګنده ده چې اهل تصوف کوم تصور د خدائے مطالق لري هغه وحدت الوجود او شهود دے ـ هر څۀ که زما په نزد وجود او شهود نظریه یوه ده دواړه چې د معراج ذکر ته ورسي نو مقصد ئې "کُل" حاصل شي ـ خو زمونږه موضوع وحدت الوجود ده له دې وجې نه غواړم چې وحدت الوجود څرګندکړم ـ

د وحدت الوجود نه مراد (یو وجود دے) چې په اصطلاح کښې د خدائے پاک دپاره استعمالېږي ـ یعنې څۀ چې دي هغه د خدائے نۀ دي ـ ځکه چې هر کله خدائے پاک د "احدیت" په مقام دے نو د صوفیانو په نزد "احدیت" هغه مقام دے چرته چې خدائے پاک یوائې دے، هېڅ نۀ لري او چې کله هېڅ نۀ لري نو بیا لازم ده چې دا دومره لوي کائنات د هغۀ د وجود نه

تخلیق شول او هم په دغه ډول هر هغه (خدای) دے ـ په دې حقله ډاکټر یار محمد مغموم صېب لیکي!

"د "وحدت الوجود" معنیٰ دا ده چې په دې کائناتو کښې د یو وجود نه بغیر بل وجود (خدای) نشته ـ دا یوه ډېره زړه نظریه ده ـ کوم صوفیان چې د وحدت الوجود قائل دي هغوي دا مني چې په دې کائنات کښې چې څومره مظاهر په نظر راځي حقیقت کښې د دوي خپل وجود نشته حقیقي وجود صرف یو دے ـ"۳

د وحدت الوجود بنیادي نقطه په شپږمه صدۍ عیسوي کښې د شیخ ابن عربي له خوا راغله چې بیا دغه د خاص صوفیانو د ریاضت مرکز وګرځېدو ـ دغه نظریه چې هند ته راغله نو په پینځلسمه صدۍ کښې بایزیدانصاري (پیر روښان) په پښتون وطن کښې د خپل وطن د سیاسي ، مذهبي او اقتصادي ګټې دپاره مخ په وړاندې راوړه چې وروستو دغه د وحدت الوجود نظریه روښانۍ شاعرۍ مرکز وګرځېدو ـ چې نن هم د وحدت الوجود دغه تصور ځیني ځیني شاعران مخې ته راوړي ـ

وحدت الوجود بنیادي طور د صوفي په حال کښې موجود وي ـ هر کله چې صوفي د طریقت د مقام نه په اوړېدو وي هغه خپل محسوسات هر څۀ د خدای پاک محسوسوي ـ

په هر څۀ کښې ننداره د هغه مخ کړم
چې له ډېرې پېدایۍ نه نا پدید شه ۴

اواز واره د وهاب دے
که د رحم یا عتاب دے
په هر لور چې فهم وکړم
د مولیٰ چنګ و رباب دے ۵

د سالک ټول حواس بغیر د (حق) بل څۀ نۀ محسوسوي او دغه محسوسات د انسان نه معصومه فرښته سازوي کومه چې د دنیا د لالچ نه مبرا وي خو ولې انسانانو ته د شر علامت نۀ ګرځي بلکې د د نیا دپاره رحمت وي ـ

غواړم چې هم دغسې د خپل بحث په رڼا کښې په رومانیت هم خبره وکړم ـ "انسان ازاد پیدا دےخو چې چرته ګورې نو راګیر دے"۶ـ د ژے ژاک روسو په دې وړه خبره کښې ډیره لویه فلسفه پرته ده ـ انسان فطرت ازاد زیږولے دے خو چې کله معاشرې ، مذهب او مسلک ته رادننه شوے دے نو ذهني غلام ګرځیدلے دے ـ هم د روسو دغه نظریه وه چې د فرانس اولس ئې د ذهني غلامۍ نه ازاد کړو او په اتلسمه صدۍ کښې انقلاب فرانس په وجود کښې راغے ـ د روسو د هم دغسې لیکونو نه د فرانس او د برطانیې د هرې طبقې سره تعلق لرونکو خلقو اثر واخستو ـ خو کوم اثر چې فلسفیانو او شاعرانو واخستوهم د هغې په وجه د روسو دغه فکر د دنیا په ګوټ ګوټ کښې ژوندے دے ـ په دغه شاعرانو کښې بائرن ، شیلے، ورز ورتهـ، او جان کیټس" د ستائنې وړ دي ـ دغۀ شاعرانو په شاعرۍ کښې د زړو روایاتو نه بغاوت وکړۀ ـ د کلاسیزم په ضد ئې لیکونه شروع کړل ـ چې د یو تحریک په ډول مخ په وړاندے روان شول ـ ورستو دغه تحریک د رومان ټیسزم په نامه وګرځیدۀ ـ

هر څو که د رومان او رومانیت او دغه ټکے تر ډیره وخته راسې په ادبي دنیا فضا کښې بې معنې او بې مفهومه وو ـ چا ئې معنه د رومیانو څخه اخستې ده او چا د لاطینۍ ژبې نه ـ بلکې ایف ایل لوکس ( F.L Locas) ئې په خپل کتاب Decline and fall of romantic ideal کښې په سونو کښې تعریفونه کړي دي ـ په دې حقله ډاکټر سلیم اختر لیکي !

"دا ټکے چې څومره خوږ او زړۀ راښکونکے دے هومره ئې تشریح کول ګران دي ـــ د زړې فرانسۍ نوم هم رومانز وه چې ورستو د رومانس په شکل کښې په وجود کښې راغے ـ په یو وخت کښې داستان ته هم رومانس وئیل کیدل"۷

مطلب ترې هاغه واقعات او خبرې دي چې انسان زيات تره خيالي راجوړې کړې وې او حقيقت سره به سمې نۀ وې ـ لکه د ديوتا ، ديوانو ، بادشاګانو او شهزادګانو داستانونه ـ ډاکټر صاحب شاه صابر ليکي !

”د ناشنا او ناشونو واقعاتو له کبله به دغې قيصو او د دغې قيصو د بيان انداز ته روماني وئيل شول نو په فرانس کښې ټول عقل حېرانونکو څيزونو او خبرو ته رومانيت وئيل عام شول“ ۹

په ادبياتو کښې رومان ورومبے په ۱۷۸۱ کښې هوډر استعمال کړے دے ـ خو د اصطلاح په طور شليګل او مادام ډي سټائل دا ټکے په ۱۷۰۲ کښې پکار راوستے دے ـ چې نن عام په ټوله نړۍ لکه د تصوف په ادبياتو راخور دے ـ پښتو ادب ته د رومان اصطلاح د اردو ادب له لارې راغلې ده چې دلته عموماً غلط العام استعمالېږي چې مطلب ترينه دعام مينې محبت قيصه يا اولسي داستان ګڼلے کېږي ـ داسې هم نۀ ده چې ګنې رومانيت په پښتو ادب کښې هډو وۀ نه خو ولې دا خبره ضروري ده چې که رومانيت مونږه د نورلسمې صدۍ نه مخکښې لټوو نو په غېر شعوري ډول به لټوو ـ ولې چې د خوشحال خټک د روشن خيالۍ او د روښانيانو د وحدت الوجود نه غوره رومانيت بل چرته هم نۀ ملاوېږي ـ خو ولې فرانس د تحريک په شکل رومانيت راوړے دے نو لازم ده چې سرخېلي ئې د فرانس په سر ده ـ غوارم چې د خوشحال يو شعر او د روښاني شاعرانو يو شعر د خپلې خبرې د دليل دپاره راوړم ـ

که مئن زۀ په ګلزار يمه په ځاے يم
که د مخ ئې په نندار يمه په ځاے يم
بې له عشقه بله چار نشته بهتره
که دايم د عشق په چار يمه په ځاے يم
زۀ خوشحال په لېونتوب کښې خوشحالي کړم
لېونے د پري وار يمه په ځاے يم ۱۰

یار په هر لوري حاضر دے اغیار نشته
هر اشیا د وحدت ګل دینه خار نشته ۱۱

خو د دې هر څۀ باوجود رومانیت مطالق یوه لویه مغالطه عام ده چې دا صرف د انسان د خیالي ازادۍ پورې محدود دي او د عقایدو او نظریو نه انکار کوي ـ بلکې د دهریت په نظر ورته ګوري چې رومانیت د مذهب نه انکار کوي ـ خو زۀ د دې خبرې سپیناوے هم په دې ډول کوم چې رومانیت په جذبو اډانه لري ـ د عقل په ضد ده دغه نظریه راغلې ده ـ خو د عقل نه مراد د انسان حرص او لالچ دے چې انسان د خیر نه "شر" طرف ته بیائي ـ بله خبره چې کومه د مذهب نه د انکار ده نو رومانیت څرګند دے چې په جذباتو اډانه لري ـ جذبات د انسان زړۀ دے چې د دۀ د وجود باچا دے ـ که مونږه د وحدت الوجود غوښتنو ته په دغه نتاظر کښې وګورو نو بیا وحدت الوجود هم دغه خبره کوي چې د سر سترګې بندې کړه نو (حق) د زړۀ په سترګو لیدلے کیږي ـ

ورځ مې ورکړه زمکې له او شپه مې ورکړه ستورو له
ځانله چې کم عقل شوم هوښیار شوم هله نورو له
کله د یار سترګو کله د ګل پاڼو کښې
زۀ ئې هر ځاے وینم شپخه جوړ که جومات نورو له ۱۲

هر چې عاشقي کا که په قطع افلاطون وي
زۀ خو ئې مجنون ګڼم که نن وي که سبا ۱۳
عاقلان د سر په سترګو ګوتې کیږدي
د خپل زړۀ په سترګو ګوري تماشه که ۱۴

هم دغه غوښتنه خداے پاک د خپل ځان د تسلیمولو دپاره هم کوي چې ! "یومنون باالغیب" چې ایمان لري په نا لیدلو"۱۵ ـ اوس که د وحدت الوجود غوښتنه وګورو نو هغه د سر په سترګو هیڅ هم نۀ تسلیموي ـ بلکې هغوي چې کوم څۀ ویني هغه عام د عقل او منطق خاوندان نۀ ویني ـ رومانیت په هر لحاظ د مذهب قایل دے خو د هغه مذهب کوم چې د انسان په زړۀ کښې دے ـ

رومانيت د مذهب د هغه خلقو په ضد په کار کېږي چرته چې مذهب په انسان د جبر دپاره استعمالېږي ـ رومانيت د هغه خداے او مذهب قايل دے کوم چې د انسان شخصي تصور وي او وحدت الوجود د انسان د زړۀ سره تعلق ساتي غوره رومانيت دے ـ

## ماخذونه


۱: القرآن ، سورة البقره ، ايت ۳۰

۲: ډار ، بشير احمد، تاريخ تصوف قبل از اسلام، اداره ثقافت اسلاميه ، ۲۰۱۷ء ، مخ ۰۱

۳: مغموم ، پروفېسر ډاکټر يارمحمد، روښانيان او پښتو ادب،پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي ، ۲۰۱۱ء ، مخ۲۰۵

۴: ارمغان خوشحال ، مقدمه سېدالرسول رسا،يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۱۹۷۶ء، مخ۴۷۷

۵: ديوان مېرزا خان انصاري ، مقدمه پرويز مهجور خېشکي ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۲۰۰۴ء، مخ ۲۰۰

۶: روسو ، ژے ژاک ، معاهده عمراني ، مترجم محمود حسېن ،شعبه تصنيف وتاليف ، ۱۹۶۴ء،مخ۴۳

۷: اختر، ډاکټر سليم، تنقيدي دبستان، سنګ مېل پبليکېشن لاهور، ۲۰۰۹ء ۹۱، ۹۲

۸: صابر، ډاکټر صاحب شاه، روماني تنقيد، پښتو مجله ، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون،۲۰۰۳ مخ۲۷

۹: ارمغان خوشحال ، مقدمه سېدالرسول رسا،يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۱۹۷۶ء، مخ۴۶۶

۱۰: غروال ، محمد عارف، د پښتو ادب په بهير کښې د روښاني غورځنګ اغېزې ،۱۳۹۵ لمريز،۲۱۴

۱۱: کليات غني خان ، د قامونو او قبايلو وزارت کابل، ۱۹۸۵ء،مخ۶۷

۱۲: ديوان رحمان بابا، زېب ارټ پبلشر جنګي محله ،۲۰۰۳ء مخ۴۸

۱۳: همدا کتاب ، مخ۱۳

۱۴: القرآن ، البقرة ،۵